مسلمان پر مسلمان شپږ حقونه لري» وويل شو: هغه کوم دي ای د الله رسوله؟ ويې فرمايل: «کله چې ورسره مخ شې، سلام پرې واچوه؛ که يې چې بلنه درکړه، قبوله يې کړه؛ کله يې چې له تا نصيحت وغوښت، نصيحت ورته وکړه؛ که پرنجی يې وکړ او الحمد لله يې وويل نو "يَرْحَمُکَ الله" ورته ووايه؛ که ناروغ شو، پوښتنه يې وکړه؛ او که ومړ، جنازې ته يې لاړ شه

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «مسلمان پر مسلمان شپږ حقونه لري» وويل شو: هغه کوم دي ای د الله رسوله؟ ويې فرمايل: «کله چې ورسره مخ شې، سلام پرې واچوه؛ که يې چې بلنه درکړه، قبوله يې کړه؛ کله يې چې له تا نصيحت وغوښت، نصيحت ورته وکړه؛ که پرنجی يې وکړ او الحمد لله يې وويل نو "يَرْحَمُکَ الله" ورته ووايه؛ که ناروغ شو، پوښتنه يې وکړه؛ او که ومړ، جنازې ته يې لاړ شه».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

پيغمبر څرګنده کړه چې يو مسلمان پر خپل مسلمان ورور د شپږ خويونو حق لري: لومړی: کله چې ورسره مخ شي نو د : السلام عليكم په وېيلو سره دې پرې سلام واچوي، او هغه به ورته په: وعليكم السلام ځواب وايي. دويم: د هغه بلنه منل، که يې وليمې يا کوم بل څه ته راوبلي. درېيم: که د نصيحت غوښتنه يې وکړه، نو صادقانه نصيحت ورته وکړه، مکر او دوکه ورسره مه کوه. څلورم: کله يې چې پرنجی وکړ او الحمد لله يې وويل: نو په: يرحمک الله سره ځواب ورکړه چې هغه درته: (يهديكم الله ويصلح بالكم) ووايي. پنځم: دا چې د ناروغتيا پر مهال يې پوښتنه وکړي. شپږم: کله چې مړ شي، نو جنازه پرې کوي او تر خښېدو پورې ورسره ملتيا کوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5343